


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنیټه : 21 دسمبر 2018 م

# مین یمه

انسان يم له فطرته په ښکلا باندې مين يمه
ګل باندې مين يمه بورا باندې مين يمه

هرچيرته انسان خپل انسانيت سره ښايسته ښکاري
ځارشم انسانيته زه په تاباندې مين يمه

ګل دنرګس ګورئ له حيابې سترګې ښکته وي
زه دګلبدنې په حيا باندې مين يمه

کرمه شوګيرې دګل په پانو لکه پرخه يم
زه دګلغتيو په موسکا باندې مين يمه

وسوځې ستې شي ديار مينه کې سر وبايلي
خلکو ديتنګ په دا وفا باندې مين يمه

په پاکو جذبو سره ملاله چې سنګر ته تله
زه بې دشهيد زړګي دنيا باندې مين يمه

ماته دسبا بيګا خبرې ژرشه لنډې کړه
پوه بې چې افغان يم په رښتيا باندې مېن يمه

مه چېره زاهده درندانو سره مه چېره
زه فقير ملنګ يم په صحبا باندې مين يمه

څله راته واېي چې دا ولي راته ګورې ته
سپينه درته وايمه چې تاباندی مين يمه

بيا به سپرلی راشي دوطن ګلان به وسپېري
دور به بدل شي په سباباندې مين يمه

ما حفيظ « مليار» ته عاشقي کې مست ملنګ وايه
زه مي دهېواد په هره خوا باندې مېن يمه

****

عبدالحفيظ « مليار »

بازګشت به صفحه اصلی - [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)